# افغان شهزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امریکایي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

# تأريخي ناول

**ليکوال : پوهاند بشير احمد زکريا**
**د کولمبيا د پوهنتون دايمي پروفيسر**

**ژباړه : رحمت آريا**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

# شپږم څپرکی

د ۱۸۳۰ز لسيزې په لومړيو کې ول چې د ختيځ هند د کمپنۍ د بورډ رئيس[١] لارډ النبرو[٢]، د استخباراتي چارو مأمور الکسندر برنس[٣] سيکهـ ستراواک پنجابي مهاراج، رنجيت سينگهـ ته ولېږۀ او د برنس په لاس ئـې رنجيت ته د برتانيې د دولت د ډالۍ په نامـۀ ځو ښکلو عربي آسان هم ولېږل؛ برنس، رنجيت ته د النبرو يو ژانۍ «له غوره مالۍ ډک» ليک هم درلود. برتانوي ستراواکي د هرې ورځې په تېرېدلو په منځنۍ آسيا، قفقاز، ښيوې «خيوې» د افغانستان شمال د آمو د سيند (اکسوس) شاو خوا کې د تزاري روسيې د ستراواکۍ له خوځون څخه ترهورې کېدله.

په ۱۸۳۲ز کال کې ول چې گورنر جنرال لارډ ويليم بـنـتـينـک[٤]، بريدمن الکسندر برنس ئـې په پنجاب کې د خپل مخکيني مأموريت له بشپړولو وروسته، دا ځل افغانستان ته د پوځي کشف د يوې وړوکې ډلې په ملتيا ولـېـږۀ. په دې سفر کې برنس د خپل سر ټول ويښتان و خريل، ږيره ئـې توره رنگ کړه او افغاني جامې ئـې په ځان کړې. کله چې کابل ته ورسـېـد، د امير دوست محمد خان د ورور، سردار عبدالجبار خان مـېـلمه سو. افغانانو په ښکلو جامو پوښلی الکسندر برنس ته ډېـر ژر د « سکندر» نوم ورکړ، د نړۍ په دې برخې کې خلک ستر مقدوني الکسندر په لنډون د « سکندر» په ډول يادوي. برنس د افغانانو د " سپېڅلتيا " او مـېـلمه پالنې تر اغيزې لاندې راغی او وئـې ويل چې افغانان د عيسويانو او زموږ د دولت پر وړاندې کومه دښمني او تبعيض نه لري." همدا شان برنس د افغاني خواړو ډېره ستاينه کوله په ځانگړي ډول انگور چې افغانان ئـې د کال په اوږدو کې د مالوچو په استرونو کې په يوې وړوکې ختـيـنې ډبې کې چې دوی ئـې «کنگينه» بولي ساتي. الکسندر برنس څو موده وروسته له خپلې بدرگه ډلې سره د هندوکش له دنگو غرونو په تـېـرېدلو د بلخ لرغوني ښار ته ورسـېـد او له هغـۀ ځايه د بخارا شهزاد - واکی «شهزاده نشين» ته چې د افغانانو د قيموميت له سيمو څخه يوه سيمه وه ورسـېـد. له بخارا څخه د ستنـېـدلو پرمهال د بخارا وزير هيله ځرگنده کړه چې خدای دې وکړي برنس او ملگري ئـې په بخارا کې له تاوده ښـۀ راغلاست سره مخامخ شوي وي. برنس ناڅاپه د خپلې ژبې څوکه په خولـۀ کې دننه خپل بارخو ته ورسوله، سترگې ئـې يو څـۀ تـنـگـې کړې او په د ترخکوني «مليحي» ټوکې په ترخ کې ئـې وويل ":" له ما او زما له بدرگې ډلې سره په درنښت چلند شوی دی، نـۀ مو بکسونه خلاص شوي دي او نـۀ مو پر کاليو باندې ماليات لگول شوي دي". برنس او بدرگه ډلې ئـې خپل سفر مروې ته د تورکمن ددښتې له لارې دوام ورکوي او مشهد، فارس ته رسـېـږي. ورپسې، برنس خپل سفر ته د کسپين د سمندر د څنډو په اوږدو کې دوام ورکړ او تهران ته ورسـېـد. ورپسې ئـې د بوشهر له لارې سمندري سفر پـېـل کړ او ځان ئـې بمبـئـې ته ورساوۀ. کله چې گورنر جنرال، لارډ ويليم بـنـتـينـک په دې خبر شو چې برنس د فارس د شاه په دربار کې يو روسی پلاوی له درباري مصاحبانو سره په پټه ليدلی، نو برنس ئـې له ځنډ پرته انگلستان ته ولـېـږۀ چې په لندن کې په خپلې ژبې د روسانو د گواښ راپور وړاندې کړي.

برنس په هندوستان کې له دولس کلنې استوگنې وروسته، لندن ته له رسـېـدو سره سم خپلې مور ته وليکل ":" ليکوالان، د خپرندويو مطابعو مشران، ټولنې او نور... د سيل په شان راباندې تويـيـږي او غواړي ما

---

١ - President of the Board of Control of the East India Company
٢ - Lord Ellenborough
٣ - Alexander Burnes
٤- Lord William Bentinck


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وويني، ټول را سره خوړ او په ورين تندي چلند کوي. کټ مټ يو ژوی راڅخه جوړ شوی دی." په ډېر لنډ وخت کي ول چي نوموړی د «بخارا د برنس[٥]» په نامـهٔ ياد شو او نوم ئـې د لندن د اشرافي کړېـو په منځ کي خولـهٔ په خولـهٔ ګرځــېـدهٔ.

برنس د خپلي هيلي برخلاف د اعليحضرت څلورم ويليم[٦] حضور ته ومنل شو. څلورم ويليم د برنس له ستايلو وروسته وويل :"... په خدای مي تــَـوَکـُـل دی. خدايتعالی دي تا ته اوږد ژوند ډالی کي چي زموږ ختيځه ستروالکي وکولای شي ستا له هغو بي شمارو استعدادونو او ډېرو وړتياوو څخه ګټه تر لاسه کړي چي ستا په وجود کي راغونډ شوي دي." وروسته اعليحضرت د انديښني په زياتولو د برنس د هغـهٔ کتاب په اړوند يادونه وکړه چي د چاپ په درشل کي وو، اعليحضرت وويل :" ستا په لاس کي له وېـرې ډک معلومات په امانت ايښودل شوي دي، بايد پام ولرئ چي څـهٔ شي چاپ کړئ." خو له دغو غوږوهنو سره سره برنس خپل کتاب چاپ کړ، برنس ددغـهٔ کتاب ډېـری برخي په هندوستان کي ليکلي وې او يوه وړوکي برخه ئـې لندن ته د راستنـېـدلو پر لاري د خپل سمندري يون په ترڅ کي وليکله. دغـهٔ کتاب په لندن کي د ډېـريو خلکو کورونو ته لاره وموندلـه. کتاب وکولای شول د تزاري ستروالکی ترهـجنو او مخ په وَدي پرمختګونو ته د خلکو پاملرنه او انګېـرنه راواړوي. ټول په دې فکر کي ول چي کله به د سرو جامو برتانويان[٧] د افغانستان په يوې برخي کي له روسي قوزاقانو[٨] سره مخامخ سي.

برنس د خپلو رخصتيو د مودې له بشپړولو وروسته بـېـرته په کلکتي کي خپلي پخوانی دندې ته د کڅ د استخباراتي دفتر د مرستيال په توګي چي لړی يي سوکه او درنده وه، راستون شو. خو دا ځل د کلکتي عاليه دولت، برنس ته امر وکړ چي خپل ځان په کابل کي " د سوداګريزو" چارو د مسئـوليت د پر مخ بيولو لپاره چمتو کاندي. همداشان برنس ته وويل شول چي د " سوداګری لپاره د اندس د تلنځ د پرانيستلو پر پاليسی" باندې هم کار وکړي. برنس ښـهٔ پوهـېـدهٔ چي د ښکيلاک د برلاسی او هژمونی ډېـری موخی د " سوداګريزو مارکيټونو" د پرانيستلو په نامـهٔ په عام ډول، او په ځانګړي ډول هندوستان کي تر همدغو بدلو سوداګريزو جامو لاندې تر لاسه کـېـږي. برنس په پټه وليکل :" زه راغلی يم چي د سوداګريزو چارو څارنه وکړم، د سروي د چارو سرپرستي وکړم، غرني تلنځونه «معابر» و ارزوم؛ ددې تر څنګ دنده لرم چي پر چارو څارنه ولرم او په پای کي قضاوت وکړم چي له دې وروسته دې څـهٔ وسي؛ حال دا چي د دغـهٔ " له دې وروسته دې نور څـهٔ وسي" وار مخکي له مخکي رارسيدلی دی." بايد زياته کړم، برنس چي وروسته د اتل په نامـهٔ ياد شو، هـېـڅکله له دې انکار نـهٔ دی کړی چي د برتانيي د سلطنت لپاره ئـې جاسوسي نـهٔ ده کړې.

امير دوست محمد خان په خپلو ټولو هلوځلو سره سره چي په ختيځ کي په افغان قلمرو کي د سيکهانو د ستروالکیٔ د تـېـرېـو او په لويديز کي د فارس - روس د ګډو ګواښونو پر وړاندې چي د هرات پر لور ئـې پرمختګ کړی وو، د برتانيي مرسته تر لاسه کړي بيا هم نـهٔ يوازې دا چي امير د برتانيي مرسته تر لاسه نـهٔ کړه ان د هغه غوښتـنـو ته ئـې هم ځواب ور نـهٔ کړ.

---

[٥] - Bokhara Burnes
[٦] - His Majesty, William IV
[٧] -British red coats: د برتانوي سرتـېـرو پـهٔ يونيفورم دلالت کوي چي تېر لرونکي لنډې چپني ئـې اغوستي او لـهٔ نامـهٔ کښته تر زنګنو پورې ئـې نيمه پراخي لمني درلودلې. — ژ
[٨] - د کتاب پـهٔ پای کي ئـې شرحه کي وګورئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

جګړن راولسن[٩] چي په تهران کي د برتانيي د ډيپلوماټيک مأموريت[١٠] د کارکوونکو په ډلي کي وو، د کپټان ويکويچ[١١] ليدنه کتنه ئي «د فارس له مقاماتو سره - ژ» کشف کړې وه. راولسن په دې باور وو چي ويکويچ د " فارس محمد شاه" لپاره تحايف راوړي دي. خو محمد شاه دغه تور په ډېري خښمېدلي ژبي په دې لـهجې رد کړ چي " زما لپاره ئـي تحايف راوړي دي؟ ولي؟ زه خو ورسره هېـڅ ډول راکړه ورکړه نـهٔ لرم. ويکويچ او ډله ئـي د روسي تزار له پلوه نـېغ په نـېغه کابل ته د دوست محمد خان لپاره رالـېږل شوې ده. ما يوازې دوني وړانديز وکړ چي کولای شم هغوی سره د سفر په اړوند ئـي مرسته وکړم. "
کپټان يان ويکويچ[١٢] د ليتوانيا له اشرافو څخه وو چي سايبريا ته د روسيي ضد، زده کړيالانو په لاريون کي شړل شوی وو. نوموړي په سايبريا کي د پريمانه وخت په لرلو ځان د منځنۍ آسيا له ژبو او فرهنګونو سره ښـهٔ آشنا کړی وو. ويکويچ د يوهٔ هوښيار او چابک افسر په توګي په دې بريـالی شو چي په ډېـر لنډ وخت کي د روسيي د پوځ لوړو کړېـو ته ځان ورسوي. وروسته له دې چي امير دوست محمد خان د تزار د استازي ليدلو ته خپله لـېوالتيا ښرګنده کړه کپټان ويکويچ د يوهٔ يوګړي او پټ مأموريت د تر سره کولو لپاره کابل ته ولـېږل شو. امير دوست محمد خان له برنس څخه چي پـر دې مهال د امير په دربار کي وو وپوښتل چي آيا له روسي پلاوي سره وګوري که نه. برنس امير ته مشوره ورکړه چي له روسي پلاوي سره دې وګوري او ودې مومي چي نوموړی پلاوی څـهٔ غواړي، ددې خبرې له ښرګندېدو وروسته دې برنس ته بـېـرته خبر ورکړي. برنس ددې کتني په اړوند وليکل :" موږ دلته په خوسا اوبو «منجلاب» کي راګير يو. روسي ستروا‌کی کابل ته خپل پلاوی رالـېږلی او دوست محمد خان ته ئـي وړانديز کړی چي که د رنجيت سينګهـ پر ضد وجنګـېږي نو پيسي به ورکړي!!!" ويکويچ له برنس سره هم وليدل. برنس ليکي :" امير په لنډ وخت کي راته راغی او د هغـهٔ څـهٔ وړانديز ئـي راته وکړ چي ورته لـېواله وم، يعني «روسي پلاوی به رخصت کړي او يا هم هېـڅ.» له دې وروسته برنس له امير دوست محمد خانه وغوښتل چي دهٔ ته هغه کاغذ پاڼي وښيي چي ويکويچ ورته راوړي وو، امير هم په سپـېـڅلي زړهٔ، له ريا او ډيپلوماسی پرته، نوموړې پاڼي برنس ته ورکوي. برنس د خپل ليک په ترڅ کي زياتوي :" ما ژر تر ژره خپل لارډ ښاغلي اکلند ته ليک وليکـهٔ او ليک مي د ځانګړي ډاګ له لارې ولـېږهٔ، په ليک کي مي په ډاګه کړې ول چي وروسته له دې نور نـهٔ پوهـېږم چي څـهٔ به پـېښـېږي خو دوني ښرګنده ده چي زموږ او د روسانو تر منځ اوس اوږه پر اوږه سيالي پـيـل شوی دی."

ددې کتاب په لومړيو کي مي وويل چي :" د اندس لښکر د منځنۍ آسيا مارکيټونو ته د لاسرسی لپاره " سوداګريزو مارکيټونو ته د پوښښ تر نامـهٔ لاندې" مارش وکړ. دلته د يوهٔ ټکي ښرګندونه اړينه بولم چي د دغـهٔ خوځښت پرېـکړه مخکي له مخکي د لندن – د ډَونينګ د لسم سړک[١٣] په وداني کي نيول شوې شوه. برتانويانو تکل کړی وو چي د افغانستان نيواک دې په شمال ختيځ کي د خيبر د تنګي او په سويل کي د بولان د تنګي له لارې تر سره شي. ددغـهٔ نيواک موخه د رژيم بدلون وو، په دې معنی چي «بارکزی» امير دوست محمد خان دې ړنګ او پر ځای دې «سدوزی» شاه شجاع کښـېـنول شي او د دواړو سلطنتي کورنيو تر منځ دې د سيالی اور همداسي ژوندی وساتل شي.

---

[٩] - Major Rawlinson
[١٠] - English Ministry at Tehran
[١١]- Captain Vickovich
[١٢]- Captain Yan Vickovich
[١٣]- Downing Street ١٠: پـهٔ لندن کي پـهٔ ورځنيو خبرو اترو کي د خلکو پـهٔ ژبي د لسم شميرې د سړک پـهٔ نامـهٔ يادېږي. دا د انګلستان د سر وزير او د انګلستان د پاچاهی د مرکز کور دی. دا کور د لندن د ويست منيستر پـهٔ سيمي کي د ډَونينګ پـهٔ لسم سړک باندې پروت دی. - ژ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د ۱۸۳۸ز کال د اکتوبر د میاشتي په لومړۍ نیټې، په شروني کي استوګن د ړنګ شوي شاه شجاع - سیکهانو او برتانیي تر منځ د سیملې اعلامیه بشپړه شوه. دغي اعلامیي هڅه کوله چي پر افغانستان باندې تېري ته قانوني ارزښت ورکاندي او شاه شجاع د افغانستان د واکمنی د" مشروع وارث" په نامـهٔ پر افغان ګدۍ کښېنوي. نوموړی دري اړخیزه تړون، ماهیتاً د امیر دوست محمد خان پر وړاندې د جنګ د اعلان په معنی وو؛ په دې اعلامیي کي امیر دوست محمد خان " ددې وړ نه وو" چي دا ډول " توري " دې ورباندې پوري شي. د سیملې اعلامیي هڅه کوله چي د فارس - روس د ملګرتیـا له اړیکو څخه د برتانیي د ستروا کۍ وېره ددې ټکیو په یادولو پټه وساتي چي ګڼي ددې تړون موخه د سوداګرۍ لپاره د برتانیي روغ نیټي او د جمرود له جګړې وروسته د رنجیت سینګهـ رااېلول دي.

روسي سلاکارانو فارسي شاه ته لارښوونه وکړه چي د هرات پر لور دې مارش وکړي او په ټینګو دفاعي کلاګانو سمبال دغه لرغونی افغان ښار دې کلابند کړي. د افغانستان د ستروا ک، اروابناد احمد شاه «بابا ع ـ ژ» یوهٔ لمسي کامران له خپل وزیر یار محمد خان او خپلو سرتېرو سره د ۱۸۳۷ز کال د نوامبر له میاشتي نیولي د ۱۸۳۸ز کال د سپتمبر تر میاشتي پوري په ډېري بې ساري زړورتیا، سرښندني او مېړاني له ښاره دفاع وکړه. د ختیځ هند د کمپنۍ یو ځوان افسر کپتان الدرډ پاټنجر[۱۴] په بدلو جامو کي د کڅ د آسونو د سوداګر په نامـهٔ د هرات د " سروې او راپور" لپاره، هرات ته ورسېد؛ نوموړی ورپسي د یوهٔ روحاني په جامو کي راڅرګند شو او د " سید[۱۵]" لقب ئـې ځانته غوره کړ چي د نبوي په کورنۍ پوري د اړوندو کسانو لقب دی. وزیر یار محمد خان د ۱۸۳۷ز کال د آګست په میاشت کي نوموړي ته ښه راغلاست وویل؛ په دې ډول الدرډ پاټنجر په هرات کي د روسانو پر وړاندې یو سیاسي ښمرۍ " فضیلت" وګڼل شو. ګورنرجنرال لارډ اکلنډ[۱۶] چي کپتان پاټنجر ئـې هرات ته لـېږلی وو ددې لپاره چي ټول تر لاسه شوی کریډت راخپل کړي، پاټنجر ئـې د فارس- روس له ناکامۍ وروسته د " هرات د اتل[۱۷]" په نامـهٔ ونوماوهٔ.

اوس نو په لویدیز کي له بمبئـي څخه د سر جان کین[۱۸] تر بولني لاندې د "اندس لښکر[۱۹]" او په ختیځ کي د شاه شجاع جنګیالي د ختیځ هند د کمپنۍ له نورو ځواکونو سره په حیدر آباد کي ځای پر ځای ول. دغو ګډو ځواکونو د حیدر آباد ښار چي په سندهـ کي د خپلواکو خاناتو[۲۰] له مرکزونو څخه یو مرکز وو لوټ کړ. همدلته ول چي د بنګال لښکر هم له دغو ځواکونو سره یو ځای شو، ددغه لښکر ټوله شمیره دا وه : له بنګاله ۹۵۰۰ جنګیالي، د بمبئـي له قطعاتو څخه ۵۶۰۰ تنه جنګیالي او د ۶۰۰۰ په شاو خوا کي د شاه شجاع سرتـېري. ددغـهٔ ۲۱۰۰۰ کسیز لښکر پر شمیر باندې ۳۰۰۰۰ اوښان، ۸۰۰۰ اسونه او په سلـهاوو غوایان د بګیو او ګاډیو د کشولو لپاره هم ورزیاتـېدل. د نوموړي شمیري تر څنګ ۳۸۰۰۰ تنه نور هم له دغـهٔ لښکر سره یو ځای ول چي د لښکریانو د کورنـېو غړي، د هغوی خدمي، نوکران، د دوی د ځاوریو شپانـهٔ او ساتونکي او " بازاري نجوني[۲۱]" وې. د برتانیي د ستروا کۍ د پرتم په نیشي کي

[۱۴] - Captain Eldred Pottinger
[۱۵]- Sayyed
[۱۶]- Lord Auckland, the Governor-General
[۱۷]- Hero of Herat
[۱۸] - Sir John Keane
[۱۹]- Army of Indus
[۲۰]- Sindh khanates
[۲۱]- bazaar girls


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ډوب برتانویان دوني پر ځان غره او ډاډه ول چي " پر افغانستان باندې تېرى به له يوۀ تفريحي او له پوځي تجمله ډک سفر پرته بل څـۀ نـۀ وي." هر افسر لږ تر لږه نيم درځن مرييان له ځان سره درلودل، يو شمير افسرانو خو ان تر څلويښتو پورې مرييان هم راوړي ول؛ دغو افسرانو هر يوۀ له ځان سره د سپينو زرو لوښي، د ښيښو لوښي، د شرابونو صندوقان او ان د خوځنده حمام بشپړ اسباب هم له ځان سره راوړى وو. جنرال کين خو څـۀ دباندې ۲۶۰ اوښانو ته اړتيا درلودله چي ددۀ شخصي ملزومات او توکي ورسره يوسي، بل برګيډ يا ډګرمن دوو اوښانو ته اړتيا لرله چي يوازې ددۀ سيګارونه ورسره يوسي. برتانوي افسرانو هيله درلودله چي د افغانستان د غرونو په سړې هوا کي به پرله پسې ساړه او هوسا ژمي تـېـر کړي او د آرامه خوب او په نويو مستعمراتو کي د کراره له چرچو ډک ژوندانـۀ هوا ئـې په سر کي چلـېـدله. د اندس ستر لښکر د بولان د تنګي پر لور وخوځـېـد خو د لارې په اوږدو کي ئـې يو شمير څاروي د هوا د تودوخي له کبله له لاسه ورکړل، ددې ترځنګ، لښکر د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ شو او له بلې خوا د بلوڅ جنګياليو د ټوپکو له اور سره مخامخ شو چي له لـېـرې واټـنـه ئـې د لښکر پر لور ډزې کولې، په پاى کي اندس لښکر د ډېـرو خواريو او ستونزو په ګاللو کويټي ته ورسـېـد. کويټي ته له رسـېـدا وروسته جنرال کين د ستونزو په ګاللو بيا هم وتوانـېـد چي خپل لښکر سره راټول کړي. نوموړى په کويټي کي د خپلې دوه مياشتينۍ استوګنې په ترڅ کي د اړوندو اړينو توکو په راټولولو لګيا سو، لکه د خوراکي توکو راټولونګ، د اضافي اسونو موندنه او د يو شمير پوځي وسايلو پيدا کول؛ وروسته ئـې د غزني پر لور مارش وکړ. د غزني د نامتو کلا نيول آسانه نـۀ ول، د کلا د نيولو لپاره سخته جګړه ونښتله، د کلا دروازه د پوځيانو لپاره د نفوذ وړ نـۀ وه، په پاى کي دا دروازه د يوۀ خائـين افغان له پلوه د اندس د لښکر پر مخ په دې ډول پرانيستل شوه چي کپتان ديورند[۲۲] ۹۰۰ پونډه باروت ورته ځاى پر ځاى کړل او دروازه ئـې وچـَـوله. په دې جګړې کي د جنرال کين د انګليسي لښکر اووه لس تنه ووژل شول او ۶۵ تنه نور ئـې مرګوني ټپيان شول. د افغانانو د دفاعي غنډ يو زور و دوه سوه تنه مدافعين ووژل شول او درې سوه تنه ئـې ټپيان شول. په پاى کي جنرال کين د غزني نـۀ ماتـېـدونکي کلا ونيوله او د انګليس د متحده دولت بيرغ ئـې د غزني - کلا پر دنګې څوکي باندې رپانده کړه. د غزني نيونګ برتانيانو ته ستر برى ګڼل کـېـدۀ حال دا چي افغانانو ته د مورال له لاسه تلل ول چي ددوى د هيلو خلاف يو ناځاپه وربانديې راتوى شول. جنرال کين په داسې حال کي ځان د کابل دروازو ته ورساوۀ چي د جنرال د سياسي چارو افسران کابل ته د لښکر د کتار له خوځـېـدا مخکي د کابل پر لور تللي ول.

د کابل له ړنګـېـدلو څو ورځي مخکي ول چي شمال ته د بريـالي لښکري خوځون له بشپړولو وروسته د شهزاده اکرم خان په ملتيا پلازمـېـنـي ته راستون شوم. شمال ته د خپل مأموريت له لاسته راوړنو څخه خوښ وم چي د مرييانو د سوداګر غورونه مي ورتاو کړي ول او له هندوکشه د راتـېـرېـدا پر مهال مي د امريکا له ستورو ډک بيرغ د توپ د ۲۱ مرميو په ويشتلو په درناوي د هندوکش په يوې لوړې دنګې څوکي باندې رپانده دَرَولى وو. اعليحضرت امير دوست محمد خان خپل حضور ته ومنلم او د يوې ښکلې تورې په راکولو ئـې وياړ را په برخي کړ، نوموړې تورې د سرو زرو د رويه کارى ښکلې او ظريفه پسولنه درلودله. شهزاده اکبر خان او سلطان جان په غزني کي د اندس د لښکر له پرمخ تګه خبر کړم چي دا دى اوس د کابل دروازو ته د رانـېـږدې کـېـدلو په درشل کي دى. د همدې خبر په اورېـدلو راته په ډاګه شوه چي افغانان اوس د شمال د قومي مشرانو د سرغړاوي په پرتلې د سيهک او برتانيې د دوو خوځښت په

[۲۲] - Captain Durand


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

حال کې لښکرو له ګواښ سره مخامخ دي. اعلیحضرت له ما وغوښتل چې تل د شهزاده اکبر خان په څنګ کې او هغهٔ ته نږدې واوسم. له همدې شیبې وروسته ول چې د بولنې د واک لرونکي جنرال په پرتلې زما اوسنۍ ونډه د یوهٔ پوځي ډاکټر، سلاکار او څارن په دندې بدله شوه؛ ما همدا ونډه تر بلې هغې غوره ګڼله! په افغانستان کې د برتانوي لښکر په شتون سره ما بله لاره نهٔ درلودله مګر دا چې بېرته فیلادلفیا ته ستون شم، ځکه په همداسې یوې شیبې کې هېڅکله دداسې یوې ونډې غوښتونکی نهٔ وم.

امیر دوست محمد خان غوښتل د کابل د دروازو د دفاع لپاره وډَرېږي؛ خو د امیر اجیر لښکر ګډوډۍ ته مخه کړه. امیر د خپل لښکر مخې ته ودَرید او لښکر ته ئې خپلې وروستۍ ننواتې وړاندې کړې؛ امیر په ژړاندو سترګو وویل :" تاسو چې بشپړ دیارلس کالهٔ زما ډوډۍ خوړلې په بدل کې ئې بل هېڅ شی مه راکوئ یوازې د مېړنتوب یوه پېرزوینه راباندې وکړئ او د هماغې ډوډۍ حق را پل کړئ چې په دونې اوږدې مودې کې مې په مهربانۍ درکړې او تاسو مې ساتلې یاست؛ یوازې دونې توان راکړئ چې په مېړانې او ویاړ مړ شم. خپل اتل، وزیر فتح خان در په یاد کړئ، راځئ نن د هغهٔ د ورور تر څنګ ودرېږئ ، راځئ نن ورته دا توان ورکړئ چې په یوهٔ وروستې او مرګونې ګډ ګوزار ددغو "پردیو" پیرنګیو سپیانو د سپارهٔ لښکر هډونه ور دړې وړې کړو؛ که ددې موخې په تر لاسه کولو کې له پښو ولوېدلم بیا ورځئ او خپله سوله مو له شاه شجاع سره وکړئ." د امیر له اوښکو ډکو سترګو لارې څارلې چې ګڼې له خپل لښکره به " ژوندی دې وي امیر" شعار واوري، خو له هېڅ چا غږ پورته نهٔ شو، مرګونې چوپیا خپره وه. څو شیبې وروسته ئې په ډېرې نهیلۍ خو په ټینګ وقار خپلو اجیرو جنګیالیو ته اجازه ورکړه چې ددهٔ بیعت پرېږدي. خپل ټول هغه یاران او نږدې دوستان ئې په آرامۍ پرته له دې چې پر چا وخښمېږي یا وقهرېږي رخصت کړل چې غوښتل ئې شاه شجاع ته د تسلیمۍ له لارې خپل خوندیتوب او مصئونیت تر لاسه کړي. بیا اعلیحضرت امیر دوست محمد خان په لوړه غاړه پر خپل سپین آس کښېناست او له خپلو څو تنو له سرو ځان تېرو ساتونکو سره د خپلو زامنو او ما په ګډون چې په دهٔ پورې راټول ول د هندوکش د غرونو پر لور وخوځېدو. وروسته خبر شولو چې جنرال کین د بریدمن اوترم[23] تر بولنې لاندې د سپرو یو ټولی زموږ د پلونو د خاپ موندلو په موخې په موږ پسې رالېږلی وو. زموږ د خوځښت ګړیتوب نهٔ یوازې زموږ په ډلې کې د بدرګه ښځو او ماشومانو له کبله سوکه شو بلکه شهزاده اکبرخان ئې هم له موږ سره په (روان/ خوځند تخت کې) یو ځای کړ، شهزاده اکبر خان ته زهر ورکړل شوي ول چې د مرګ و ژوند پر پولې ناست وو. شهزاده اکبر خان ته د خیبر د تنګې ددفاع په مورچل کې زهر ورکړل شوي ول، دا تنګی د سیکهـ - برتانوي ځواکونو یوې ګډې ډلې د هېواد په شمال ختیځ کې تر ټینګ ګواښ لاندې نیولی وو، او د زهر ورکولو له پېښې وروسته شهزاده ئې د خیبر تنګې له مورچله دباندې خوندي را ایستلی وو. یو څهٔ موده وروسته کله چې اکبر خان سوکه سوکه مخ په ښهٔ کېدو سو راته وویل چې دی ډاډه نهٔ دی چې دهٔ ته د زهرو مرګونی ګوټ د برتانیې د نږه سرو زرو د ویش له کبله وو یا د افغانانو د سخې او رخې له کبله او یا د دواړو ګډوله وه.

د بریدمن اوترَم بومې لار- ملګری د حاجي خان وزګوړي پیوونکي شپانهٔ زوی وو چې پخوا د امیر دوست محمد خان له لاسه تښتېدلی وو، نوموړی په دې توانېدلی وو چې په هر ګام کې د بریدمن اوترَم او د هغهٔ د سپرو ګړندیتوب سوکه کړي. ځکه دهٔ ته هېڅکله خپل وجدان اجازه نهٔ ورکوله چې افغان امیر دې پیرنګیانو ته د برمته په توګې په ګوتو ورسي.

[23] - Lieutenant Outram


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي زموږ کاروان له هندوکشه تېر سو او د هندوکش بلې غاړې ته واوښتلو، د ډېرې خوښي احساس مو وکړ. د وزبیکو نیمه خپلواکو قومونو موږ ته په ورین تندي ښـهٔ راغلاست وویل او دوست محمد خان ته ئـې له هر ډول قید و شرط پرته د ساتني او پناه وړاندیز وکړ.

امیر دوست محمد خان او شهزاده اکبر خان د وزبیکانو له مشرانو سره د یوې غونډې په ترڅ کې اړ شو چي د بخارا له امیر نصرالله خان څخه د پناه اخېستلو غوښتنـه وکړي. په ډېـر لنډ وخت کې د امیر دوست محمد خان پام شو چي نصرالله خان څوني وحشي، ناځوانه، ناتارگر او ان لیونی سړی دی. نوموړي د بخارا تخت د خپل مشر ورور له وژلو وروسته تر لاسه کړی وو. نصرالله خان د خپل تخت د راتلونکي خوندیتابـهٔ لپاره خپل دري تنه کشران ورونه هم وژلي ول. نصرالله خان هم، د امیر دوست محمد خان په شان ځان امیرالمؤمنین اعلان کړی وو. د بخارا امیر ټینگار وکړ چي دوست محمد خان دې خپله کورنی هم له ځان سره دربار ته راولـېږي؛ ډېـره شوني ښکاري چي نصرالله خان د امیر دوست محمد خان د کورنی د گاڼو او سرو زرو بلوسني «غصب» ته سترگې مرې کړې وې. دوست محمد خان د بخارا د امیر له کنجوستوب او شوموالي څخه ښه خبر وو او له همدې کبله ول چي د هغـهٔ دربار ته ئـې د خپلې کورنی له لېږلو څخه ډډه وکړه. په پای کې د بخارا امیر، دوست محمد خان او شهزاده اکبر خان دواړه زندان ته ولـېږل او په دغو ټکیو ئـې وگواښـهٔ :" تـهٔ به تر هغو دلته پاتې کېږې چي ټوله کورنی دې بخارا ته راوستل شي." کرغېړن نصرالله دوه تنه برتانوي افسران په خپل نامتو زندان " سیاه چاه" کې اچولي ول، دغه افسران ډگروال چارلس ستودارت او کپټان آرتهر کانولي[٢٤] نومېدل. په پای کې د دواړو افسرانو سرونه د ښار په مرکز کې د نصرالله خان د بخارایي چړو په وسیلې د هغوی له تنو څخه پرېـک شول.

د ۱۸۴۰ ز کال په وُړي کې ول چي د امیر دوست محمد خان لیک راته راورسېد او په لیک کې ئـې غوښتنه کړې وه چي د بخارا له زندانه د تېښتـې په لاره کې مرسته وکړم. د امیر دا غوښتنه مې د زړهٔ په سترگو ومنله. د یوهٔ امریکایي په توگې چي له ظلم او ناتار څخه ژوره کرکه لرم له سردار کریم خان او یوهٔ تن سوداگر محمد کبیر خان کابلي سره مې یو ځای د افغان پاچا د راخلاصولو پلان جوړ کړ. پایله دا شوه چي د سردار کریم خان د یوې سپرې لیوا په ملتابـهٔ به له بلخه د بخارا پر لور وخوځـېږو.

د یوهٔ تن بومي اوسـېدونکي په لاس مې څو جوړه پاکي جامې، د غالی یوه مصلی «جای نماز» ورولـېږل؛ ددې ډالی په منځ کې مې یوه تومانچه او په کافي اندازه پیسې وپیچلې. سوداگر کبیرخان کابلي لس زره روپۍ برابرې کړې. د یوې شپې په تورتم کې چي سپوږمی نـهٔ وه خپل آسونه مو چمتو کړل او د زندان له دیوالونو دباندې چي د بخارا د امیر کلا ته ورخـېـرمه پروت وو ودرَول. امیر دوست محمد خان ته مو یو بل اضافی آس هم راوړی وو. پټو مي تر خپل سر راتاو کړ او د کابلي کبیر خان په بدرگي د زندان انگړ ته ننوتلم. د زندان په انگړ کي مي د زندان د ساتونکو پر یوهٔ مشر برید وکړ او د تومانچي د لیچ « قنداق» په ټینگ گوزار مي له پښو وغورځاوهٔ. وروسته له کبیر خان سره یو ځای دالان ته ننوتم او ومي لیدل چي اعلیحضرت موږ ته سترگي په لاره دی؛ اعلیحضرت ورو راته په غوږ کي وویل: " د ساتندوی گارد یوهٔ تن ساتونکي ته مي بډې ورکړي دي، مخکي له دې چي پښیمانه سي، باید ډېر ژر له دغـهٔ ځایه ووځوو!" شهزاده اکبر خان موږ سره له تگه ډډه وکړه! د شهزاده له دې کاره نه یوازې زه او کابلي کبیر خان بلکه پلار ئـې دوست محمد خان هم هک پک پاتې شو. دوست محمد خان چي خپل زوی تر موږ ښـهٔ پـېـژاندهٔ

[٢٤] - Colonel Charles Stoddart and Captain Arthur Conolly


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وویل :" چټک سه او دلیل مهٔ وایه! زه په اکبر ډاډ لرم، شاید کوم منطقي او ښهٔ دلیل ولري!" مور ځلور واړه له دروازې دباندې ووتلو او د سردار کریم خان سپرو، د خپلو چټک - ځغاستو تورکمني اسونو په بدرګې له ځان سره یووړو.

د لارې په اوږدو کې ځاښت مهال وو چې یو ناڅاپه مو تر شا په دښتي کې د خاورو او دوړو توپان راڅرګند شو. د ناڅاپه او توند باد ګرندوالی دوني چټک وو چې ان له آسونو څخه تر کوزیدا مخکې ئې زموږ سترګې ړندې کړې وې. د شګو او خاورو ددغهٔ توپان د دوړو په منځ کې پاد شاه زموږ له سترګو ورک او پناه شو. زه، سردار کریم خان، او کبیر خان کابلي د خپلو سپرو د کاروان په ملتیا پر آسونو سپارو شولو او خپل سفر ته مو د سویل پر لور د څو پرله پسي ورځو لپاره تر هغو دوام ورکړ چې په «ده سبز» کې د سردار کریم خان کلا ته ورسېدلو. دلته د څو ورځو لپاره د سردار کریم خان مېلمانهٔ شولو؛ نوموړي په خپلې بې ساري مېلمستیا زموږ پالنه د زړهٔ له کومې وکړه. په لومړیو څو ورځو کې هر سهار د شمال لور ته په دې هیلې تللو چې د شاه څرک راڅرګند کړو. له دولسو ورځو وروسته یو کاروان راورسېد چې موږ ته ئې له خوښې ډک خبر راوړلی وو. موږ ته وویل شول چې له توپان وروسته " یو تن چې څېره ئې امیر دوست محمد خان ته ورته وه" په دښتي کې لاره ورکه کړې وه او تاسو ئې نهٔ شوَئ موندلئ، د دښتي په هر ګوټ کې په تاسي پسي سربداله ګرځېدهٔ. امیر تر دریوو ورځو پورې له اوبو او ډوډئ پرته وچې شونډې په آس سپور لاره ووهله، د لارې په اوږدو کې ئې آس مړي او په خپله بې هوښه پر ځمکه لویږي. د روزګار قضاء ته ګوره چې ښهٔ بخت له امیر سره ملګری وو او همدغه کاروان په امیر پېښېږي او د اوښ پر شا اندولی «کجاوې» کې ئې د یوهٔ بې وسه او بې هوښه ناروغ په شان ږدي. نوموړی کاروان په څو جوپه انګړونو «کاروانسرا ګانو» کې دمه نیسي؛ کله چې امیر په هوښ راځي نو خپله څېره ږیره او بریت داوړه د قلم په رنګ توروي. د بخارا امیر د هغهٔ د نیولو لپاره دوه سوه سپاره لېږلي ول. د بخارا د امیر سپارهٔ چې له هر کاروان سره مخامخېدل ټول کاروانیان ئې د هغوی له پېټو سره یو ځای په خیر پلټل ترڅو چې د چراغچای په سیمي کې له همدغهٔ کاروان سره مخامخېږي. کله چې د امیر بدرګه کاروان ډَرَوي، د کاروان هر پېټی او کڅوړه پلټي؛ سرتېري په یوې اندولئ کې یو تن ناروغه مومي. له دې چې ږیره ئې رنګ شوې وه د نصرالله خان د سپرو بولندوی، امیر دوست محمد خان نهٔ پېژني او کاروان ته د تګ اجازه ورکوي. همدا کاروان لس ورځې وروسته دِه سبز ته چې زه، کبیرخان کابلي او سردار اکرم خان دېره وو رارسېږي او امیر دوست محمد خان روغ رمټ مومو. د امیر په لیدلو زموږ له اوږو د پازوالی «مسئولیت» دروند پېټې کوزېږي او هغه ژوره تروره «اضطراب» چې له دې کبله موږ ته راپېښ شوې وه لېرې او یو دم مو له خولو په غبرګه ووتل چې :" ژوندی دې وي امیرا!"

داسې ښکاري چې امیر خپل هویت کاروانیانو ته نهٔ وو څرګند کړی. کابلي کبیر خان د امیر رارسېدل د یوې لویې مېلمستیا په جوړولو ونمانځل. په دې ښکلې مېلمستیا کې ډول ډول خوراکي شیان پاخه شوي ول، خوندوره ډوډئ د کندز د اته پوندہ خټکیو، په ځانګړې توګې د عسقلان[۲۵] د خټکیو، په خوړلو پای ته ورسېده. دا خټکي دوني خواږهٔ ول چې د دې خوند او ښکلی بوی مې هېڅکله نه وو احساس کړی.

[۲۵]- عسقلان : په اصل کې په بلخ کې د یوې سیمې نوم دی. نامتو عسقلاني خټکی نه یوازې په کندز کې بلکه د شمال په نورو ولایتونو کې کرل کېږي خو د کندز خټکي ځانګړی نوم لري - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوه اونۍ وروسته د کریم بیگ په نامـۀ د وزبیکو یو قومي مشر له مزار شریفه د خپلو سپرو په ملتیا راغی او له موږ سره ئـې ولیدل. داسې برېښـېدله چې د مزار شریف په ښار کې زموږ په اړوند ګنګوسې خپرې شوې وې، له همدې کبله ول چې نوموړي په لېـوالتیا وپوښتل چې اعلیحضرت ته څـۀ ورپـېښ شوي ول. په ځواب کې مو وویل چې شاه په دښتې کې ورک شو او څو ورځې مو د هغـۀ په موندلو پسې تـېرې کړې، څرک ئـې راڅرګند نـۀ شو، بیا مو په دې هیلې د سویل پر لور را ودرومل چې شاه به هم زموږ په شان د سویل پر لور را وخوځـېږي، موږ هغـۀ ته سترګې په لارې وو چې ښایي په دِه سبز کې به راسره یو ځای شي. له نېـکه مرغه دولسمه ورځ وه چې یوۀ کاروان دوست محمد خان بېـرته موږ ته راورساوۀ.

کریم بیگ او سپرو ئـې موږ د آمو د سیند پر لور وخوځولو. کله چې د سیند غاړې ته ورسـېدلو ومولـېدل چې د سیند غاړه د بانس او درویو په درونو « د بانګس او نی په جلګو» ډکه ده، ټول په دې اندیښنې کې ول چې له سیندۀ به څنګه تـېرېږو. " زما سترګو چې دداسې ستونزې د راکـټـېدلو لارې څارلې نو د غور له شهزادګي رفیع بیگ څخه مې د مرستې غوښتنه وکړه." کریم بیگ په ځواب کې راته ولیکل چې " د آمو له سیندۀ ستاسو د تـېـرېدلو وسیله زه لرم."

وروسته د اس په سپرلۍ د سیند هغـۀ ټکي ته لاړو چې د سیند د پسور لمنه رالنډېـږي، او همدلته د خپل خدای راکړي او پخواني ملګري رفیع بیگ په لیدلو مې سترګې رڼې سوې، هماغه رفیع بیگ چې ما ته ئـې د " غور د شهزادګي" لقب ډالۍ کړی وو. رفیع بیگ زما په لیدلو ان زما په پرتلې لا خوشاله ښکاریـدۀ، سلام ئـې په خندا ډکه خولـۀ او د ملګرتوب له ټوکو سره بدرګه وو او ټینګ ئـې په غـېـږ کې ونیولم. په همدې شـېبې کې مې پام شو چې د سیند بلې غاړې ته یوه پلنه پرېړه رسې تللې او ټینګه تړل شوې ده. د سیند په دې غاړې کې تر پلنو مندړونو «لرګین پاڼو» لاندې د څارویو د پوستکو باد شوي خیګونه «مشکونه» څنګ پر څنګ ایښودل شوي ول، نور کسان هم له خپلو آسونو راکښته شول او ټول په وَړو وَړو ډلو وویشل سوو. له اوبو څخه د تـېـرېـدنګ دغه وسیله د جالې په نامـۀ یادېـږي چې په باراني او د سیند په توپاني فصلونو کې ډېـره خطرناکه وي. زه له امیر دوست محمد خان، رفیع بیگ او شهزاده اکرم خان سره چې په لاره کې له موږ سره یو ځای شو، په یوې جالې کې کښـېناستلو. جاله له دواړو کښتنې او مخکینې مخ څخه په یوې رسۍ پورې تړل کـېـږي، د سیند په دواړو غاړو کې ټینګ ټینګ څرخکونه کښـېـنول کـېـږي او هر څرخک ځانته یو یو لرګین ګوټک لري چې د لاستي په توګې کار کوي او په خپله څرخک په لاس تاوېـږي، همدغه رسۍ د سیند په دواړو غاړو کې په څرخکونو پورې تړل کـېـږي او د ګوټک د لاستي په تاوولو جاله ورو ورو په خوځښت راځي. کریم بیگ او رفیع بیگ چې د اندیښنې نښې ئـې زموږ پر مخونو ولیدلې ژر ئـې موږ ته ډاډ راکړ چې دا د لرغونو مهالونو یوه اختراع ده او ډاډمنه وسیله ده او هـېـڅ ډول اندیښنه مـۀ کوئ. په جالې کې مې چې د آرامۍ او ډاډ احساس تر لاسه کړ ددې سیند لویوالي او پرتم ته په چورتونو کې ډوب لاړم، او هغـه څـۀ مې په یاد راغلل چې د پلوتارک په تأریخ کې مې لوستي ول چې څنګه ستر الکسندر کټ مټ زموږ په شان ددغه سیند له یوې غاړې څخه و بلې ته اوښتی وو. زموږ ټول بدرګه کاروان د سیند بلې غاړې ته واوښت، د څارویو پښې ئـې تړلې وې او څنګ پر څنګ ئـې څملولې ول او په جالې کې ئـې راتـېـر کړل.

په سبا ورځ ئـې د مزار شریف ښار ته ورسـېدلو؛ په دې ښار کې کریم بیگ هم استوګنه درلودله، دا ښار د خپل شین رنګي مسجد او سپینو کوترو په لرلو ډېـر لوړ نوم لري. ویل کـېـږي چې که په هر رنګ بله کوتره دغه زیارت ته راوړل شي رنګ ئـې په ثابت ډول سپـینـېـږي. یو کال وروسته اکبرخان د بخارا له

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زندانه وتښتېد او له موږ سره یو ځای شو. څو اونۍ وروسته ټول جبل السراج ته ورسېدلو. د لارې په اوږدو کې مې له ځان سره فکر کاوۀ چې ولې شهزاده اکبر خان له پلار سره یوځای د بخارا له زندانه و نۀ تښتېد؟ نو نابېره مې ورڅخه پوښتنه وکړه:" د خدای په پار راته ووایه چې ولې له موږ سره یو ځای رانغلې؟" اکبر خان په ځواب کې وویل :" ما په خپله غوښتل د بخارا د امیر په زندان کې برمته پاتې شم ترڅو زما د پلار د نیول کېدو چانس لږ شي. ما ځانته خپل پلان درلود، غوښتل مې د خپلې تېښتې لاره په یوازې سر ومومم او د نورو ژوند له ګواښ سره مخامخ نۀ کړم. له زندانه د تېښتې په لاره کې ټپي شوم، خو دا تېښته په ټپي کېدلو ارزېدله. د تېښتې دا لاره زما په اند له مېړانې او زړورتیا ډکه وه؛ د مېړانې مرګ د نارینه ویاړ بولم؛ بې پته ژوند، په ژوندون نۀ ارزي.!" بیا مې وپوښتل چې د هغۀ ناتارګر له زندانه څنګه وتښتېدلې؟ د خپلې ترڅکونې «ملیح» خندا په کړس کې ئې وویل :" ددې داستان شرحه زموږ او ستاسو د وخت په ضایع کولو نۀ ارزي." له ظواهرو داسې برېښېدل چې نوموړي د خپلو دواړو لاسونو په بازو ګانو کې د توري سرسري ټپونه اخیستي ول او خپل ټپونه ئې د چپنې تر دواړو لستونو لاندې پټ کړي ول.

له بل پلوه د ۱۸۳۹ز کال د آګست د میاشتې اوومه نېټه وه چې برتانوي لښکر په ډهلونو، تنتناوو، سندرو او نڅاوو په کابل ننوت، د شاه شجاع دواړو خواوو ته دوو تنو انګلیسانو ویلیم مکناټن[۲۶] او کپټان الکسندر برنس له شاه سره بدرګه ګامونه اوچتول. دواړه انګلیسان په ښکلو انګلیسي جامو سمبال ول " دواړو درې څنډیزې خولۍ پر سر کړې وې، د خولۍ ګانو د ګوټونو سرونه مخ پورته کت شوي ول او د ګوټونو په څنډو کې ئې د اوښمرغه بڼکې ټومبل شوې وې چې خولۍ ګانو ته ئې ځانګړې ښکلا وربخښله، شنۀ ګریوان تړلې بالاپوښونه ئې اغوستي ول چې ورجستو تنیو ورته ښکلا بخښله، ګریوان او لستوني ئې مړتکي «ګلدوزي» شوي ول؛ په ګلابتون پسولل شویو اوږو ئې هغه پرتم نۀ درلود چې یو فیلډ مارشال ئې لري؛ د پطلانۀ ژۍ او اړخونه ئې په پلنو زرین رنګو پټارو ښکلي شوي ول. " شاه شجاع چې ځلانده شاهانه جامې سرۀ او سپین زر په ځان کړي ول په یوۀ مغرور عربي آس سپور وو. خو کابلیانو د پردیو په لاس راوستل شوي لاسپوڅي شاه او د هغۀ د برتانوي مدافع لښکر پر وړاندې خپله کرکه څرګنده کړه. سره له دې چې د ۱۸۳۸ز کال د اکتوبر د میاشتې د لومړۍ نېټې د سیملې تړون ویل :"... د کابل د واکمنۍ پر ګدۍ د شاه شجاع له کېنستلو او د افغانستان د استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا له ترلاسه کولو وروسته به برتانوي ځواکونه له افغانستانه ووځي" بیا هم انګلیسانو نۀ شوَی کولی شاه شجاع د امیر دوست محمد خان پر وړاندې چې په شمال کې ئې تر شا د وزبک، تورکمن او هزاره قومونه درېدل یوازې خوشې کړي، په ځانګړې توګه دا خبره چې د انګلیسانو ورته وروسته پام شو چې خلک ددوی له لاسپوڅي څخه تر کومې کچې ژوره کرکه لري. په پای کې برتانویان پوه شول چې نۀ شي کولای شاه شجاع د یوۀ وړوکي لښکري ځواک په مرستې تر ډېره د واکمنۍ پر ګدۍ وساتي. هرڅوني چې د برتانوي هند دولت ته د افغانستان رښتوني واقعیتونه ورڅرګندېدل په هماغې اندازې د افغانستان راتلونکي دوی ته لا نورې اندېښنې راکتولې. انګلیسانو پرېکړه وکړه چې د کابل د ژمي په اوږدو کې د اندس د لښکر بنګالي څانګه دې چې له : یوې پلې فرقې، د سپرو سرتېرو له یوۀ کنډک او له توپکوالو سرتېرو څخه جوړه وه د جنرال سر ویلبي کاټن[۲۷] تر مشرۍ لاندې له اضافي قطعاتو سره یوځای په دوو ډلو وویشي. له پرېکړې سره سم د دوو اروپایي کنډکونو له منځه، د سیکو وسلو دیارلسم پلی کنډک په کابل کې پاتې کېدۀ. بل

[۲۶] - William Macnaghten
[۲۷] - General Sir Willoughby Cotton


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کنډک یعنی د بنګال لومړی اروپایي کنډک ننګرهار ته لاړ. د لښکر پاتې برخه د جنرال سر جان کین[۲۸] تر بولنې لاندې هندوستان ته ستنه شوه. د ۱۸۳۸- ۱۸۳۹ز کلونو په لړ کې د اندس د لښکر، د «لوژیستیکي» لېږدنې کمپاین په ترڅ کې چې د ۳۰۰۰۰ اوښانو په ملا تر سره کېدهٔ، ۵۰۰۰ اوښان ئې د بېلابېلو لاملونو له امله له اسیته اټ وسته «هلاک» شول. امیردوست محمد خان او شهزاده اکبر خان ته تل دا ډول خبرونه د هېواپالو کوهستاني او پنجشیري داوطلبانو له پلوه چې د کابل د شمال په غرونو او دَرو کې استوګن ول له خنډ و ځنډ پرته پرله پسې راورل کېدل.

د کابل له نیواک وروسته شاه شجاع اجازه ورنـهٔ کړه چې انګلیس لښکر دې د بالاحصار په کلا کې پاتې شي. که داسې سوي وای نو برتانویانو کولی شوَی له بالا حصاره چې د کابل پر ښار سپره غونډۍ ده، د شاه د حرم له منځه د کابل ښار وڅاري. د دودونو له مخې د پردیو له پلوه د افغان ښځو د مخونو لیدنګ حرام ګڼل کېدهٔ. پایله دا شوه چې انګلیسان دې ځانته له بالاحصاره څهٔ ناڅهٔ یو مایل لـېـرې د ښار په سویل ختیځې برخې کې د یوې هوارې ځمکې پر مخ چې له ستراتیژیک اړخه یو نامساعد ټکی وو، نوی لښکر کوټ جوړ کاندي. په دې سیمې کې چې پراخوالی ئـې نـېـږدې ۱۰۰۰ په ۶۰۰ یارډو کې وو د لښکر استوګنځایونه «بارَکونه» او ودانۍ راتللې. د ۱۸۳۸ - ۱۸۳۹ز کال ژمی د اندس د لښکر لپاره له پېښـو او اندېښـنو ډک ژمی نـهٔ وو. د ۱۸۳۸ز کال د نوامبر له میاشتې بیا د ۱۸۴۰ز کال تر پـېـله پورې د برتانوي افسرانو او سرتـېـرو تلفات له څلور دېرش تنو لږ وو چې یو دېـر شمیر ئـې د ځانوژنې، اور، لمر سوځـېـدنې او سټریا له امله وو.

یو شمیر پـېـرنګیو افسرانو خپلې مـېـرمنې په دې هـیـلې له هندوستانه له ځان سره راوړې وې چې ګڼې اوس افغانستان د برتانوي هند د مستعمراتو یوه برخه ګرځـېـدلې او اقلیم ئـې د هندوستان په پرتلې ډېـر ښـهٔ دی. د لښکر نوره برخه له نا آرامیو سره مخامخ شوه، ددوی په منځ کې له نوي چاپیریـال سره د جوړښت او له کورنیو څخه د بېلوالي ستونزې پـېـل شوې، له دې کبله انګلیسي افسرانو خپله پاملرنه د شرابو او سیګارو کمښت ته واړوله. انګلیس کالونی ساعت تـېـری پـېـل کړي، د کابل د شاو خوا د کنګل شویو سیندونو او اوب - ډنډونو پرمخ چوغلونه «یخمالک» پـېـل شول او یا به ئـې پَرې «قطعه بازي» کولې او یا به کله چې هوا ښه وه د کرکیټ لوبه ئـې کوله، اسونه ئـې ځغلول، او یا به ئـې د نڅا او تیاتیر ننداري په لارې اچولې. دا نو هماغه شپې او ورځې دي چې پر پولیټیکل اجنټانو او پوځي افسرانو باندې د هغوی د بریـا په اسیت د ستاینو او درناویو لړۍ د آسماني باران په شان ووَرېدله. په کلکتې کې «د برتانیې د ختیځې ستروکۍ» ددولت سکرتر ویلیم هې مکناټن[۲۹]، باروټت[۳۰] شو. الکسندر برنس د «نایټ[۳۱]» رتبې ته لوړ شو او د غزني اتل جنرال رابریټ سیل تر ټولو لوړ لقب «لمن لیک وګورئ[۳۲]» تر لاسه کړ.

د ۱۸۳۹ز کال په پای کې خبر ورسـېـد چې روسي ځواکونه د افغانستان په شمال کې د خیوې پر لور د پرمختګ په حال کې دي. هـېـڅ شک نه شته چې د روس دا لښکري خوځون په افغانستان کې د برتانیې د «فاروډ پالیسی» پر وړاندې یو غبرګون وو. د ۱۸۴۰ز کال د پسرلي په راتګ سره برتانویانو څکه آرامه

---

[۲۸] - General Sir John Keane
[۲۹] - William Hay Macnaghten
[۳۰] - baronet : د کتاب پـهٔ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ
[۳۱] - knight
[۳۲] - Knight Commander of Bath د کتاب پـهٔ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سا و ايستله چې روسي ځواكونو د «يوۀ استـثـنـائـي سارۀ ژمي» او د يو شمير پياوړو ګوريلايي جګړو له كبله درانده تلفات وګالل. كله چې روسانو د خپل ۵۰۰۰ كسيز لښكر له شميره ۱۰۰۰ تنه سرتيري له لاسه وركړل، نو بېرته د روسيې اورنبرګ ته په شا لاړل.

****************************


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليږلو مخكې په ځير و لولـئ